

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته نامه آبادی
گڼه: ۳۴ | مسلسل نمبر: ۷٦
شنبه، د جمادي الأول ٦ مه، ۱۴۴٦ هـ. ق کال

## د ستندرډ عالي شورا له لوري ۳۰ ستندرډونه تصویب شول


۲ صفحه

## طرح تولید برق آفتابی در ولایات مختلف و چند پروژهٔ اقتصادی دیگر مورد بحث قرار گرفت


۲ مه صفحه

## د کابل – مسکو اړیکي او د ښه‌والي فرصتونو ته یې کتنه


۴ مه صفحه



# سرلیکنه

په افغانستان کې په تېر کې د اداري فساد له امله ډېر بې کېفیته توکي تولید او وارد شوي دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د ستندرډ عالي شورا له لارې په افغانستان کې د بې کېفیته توکو د تولید او افغانستان ته یې د واردولو مخه ونیسي.

اسلامي امارت هم اړتیا ته په کتو د ستندرډ عالي شورا جوړه کړې، څو د ستندرډ ملي اداري له لوري تائید شویو ستندرډونو په اړه بحث او منظوري ورکړي. د دغې شورا مشري د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي.

د ستندرډ عالي شورا لومړنۍ ناسته د ۱۴۰۳ کال د زمري په ۳۰ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه او دویمه هغه یې د لیندۍ په لسمه نېټه جوړه شوې وه. دویمه شورا کې دېرش ستندرډونه د ستندرډ عالي شورا له لارې تصویب شول.

د ستندرډ دغې دویمې شورا کې د ساختماني، خوراکي توکو او څښاک، طبي، کانونو، نفتي، نساجي، چاپېریال او د برېښنایي وسایلو په برخه کې ۳۰ ستندرډونه له هر اړخیز بحث څخه وروسته تصویب شول.

په یو هېواد کې د ستندرډونو موجودیت د وارداتو او تولیداتو له پاره ډېر مهم دي. ستندرډونه په یو هېواد کې د اوږد مهاله پرمختګ، اقتصادي ګټو، معیاري خدماتو وړاندې کولو، پر حکومت د خلکو باور، سوداګرۍ غوړېدو، د کیفیت د ښه کولو او د روغتیایي او چاپېریالي خوندیتوب رامنځته کولو کې مهم رول لري. که چېرې مونږ ستندرډونه و نه لرو او یا د وضع شویو ستندرډونو مطابق واردات او تولیدات و نه لرو، نو ټولنه به مو له ګڼو ستونزو سره مخ شي.

ستندرډونه د یو هېواد په سوداګرۍ او اقتصادي وده کې مهم رول لري. ستندرډونه په سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو کې د باور رامنځته کولو له پاره ډېر مهم دي.

ستندرډونه مونږ ته په بهرنیو او کورنیو توکو او خدماتو باور راکوي. که چېرې یو سوداګر په وضع شویو ستندرډونو پوره توکي خپل هېواد ته وارد نه کړي، نو سوداګرۍ او باور ته یې زیان رسېږي. دغه راز، که چېرې د یو هېواد په داخل کې په ستندرډ برابر توکي تولید نه شي، نو داخلي تولیدات نه پلورل کېږي او د یو هېواد ملي اقتصاد ته به ډېر زیان ورسېږي.

له بلې خوا، که چېرې یو هېواد په ستندرډونو برابر توکي صادر نه کړي، نو نړیوال باور او له نورو هېوادونو سره به یې سوداګریزو اړیکو ته ډېر زیان ورسېږي. په نړیوال سوداګریز مارکیټ کې د باور ترلاسه کولو، ساتلو او له نورو هېوادونو سره د ښو سوداګریزو اړیکو له پاره په ستندرډ د برابرو توکو تولید او صادرول ډېر مهم دي.

په همدې موخه د ستندرډ عالي شورا جوړه شوې چې تر اوسه یې په دوه غونډو کې څه باندې پنځوس ستندرډونه په هېواد کې د کېفیت او خوندیتوب رامنځته کولو په موخه تصویب کړي دي.

# د سټنډرډ عالي شورا له لوري ۳۰ سټنډرډونه تصويب شول



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا په دوهمه غونډه کې چې نن د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په ۱۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، ۳۰ سټنډرډونه تصویب شول. په دغه ناسته کې د سټنډرډ ملي اداري عمومي رئیس ملا فیض‌الله تمیم، د دغه شورا دایمي غړو او د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود.

د غونډې په پیل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وویل، هېوادوالو ته د معیاري تولیداتو او وارداتو وړاندې کولو له پاره اړینه ده چې سټنډرډونه جوړ او تطبیق شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په دې سره به د بې کیفیته توکو د وارداتو او تولید مخنیوی وشي او ولس ته به معیاري توکي وړاندې شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو ادارو څخه په کلکه وغوښتل چې د شورا له لوري تصویب شوي سټنډرډونه دې په جدي ډول پلي او تعقیب کړي.

وروسته غونډې ته د تصویب په موخه د ساختماني، خوراکي او څښاک، طبي، کانونو، نفتي، نساجي، چاپېریال، برېښنایي وسایلو په برخه کې ۳۰ سټنډرډونه وړاندې شول. په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته یاد سټنډرډونه تصویب شول.

# طرح تولید برق آفتابی در ولایات مختلف و چند پروژهٔ اقتصادی دیگر مورد بحث قرار گرفت



جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی بتاریخ ۱۳ م قوس ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید.

طبق اجندا به جلسه از سوی سکتور خصوصی طرح‌های تولید برق آفتابی در ولایات کاپیسا، هرات و کابل، نصب بتری‌ها برای ذخیره برق در ولایت قندهار، ساخت لابراتوارها جهت کنترول کیفیت مواد غذایی در ده بندر مهم کشور و ایجاد قوریه تجارتی درختان مثمر و باغ‌های پسته در ولایت هرات، غرض بحث ارایه گردید.

پس از بحث تفصیلی در جلسه به کمیته های جداگانه وظیفه سپرده شد تا با شرکت های ارایه دهنده این طرح‌ها بحث تخنیکی و اقتصادی نموده و گزارش‌های خود را در وقت تعیین شده به کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی ارایه نمایند.

## د پاشدان بند د اوبو په زېرمه کولو سره به تر ځمکې لاندې اوبو کچه لوړه او کرنيزې ځمکې به خړوبې شي

د افغانستان اسلامي امارت د اوبو مهارولو او مدیریت لپاره قوي هوډ لري او دا کار یې له لومړیتوبونو څخه دی. په تېرو دوو لسیزو کې د جګړو، سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ، اقلیمي بدلون او ورځ تر بلې زیاتېدونکې نفوس هغه لاملونه وو، چې افغانستان یې له سختو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی دی، نو اوس اړتیا ده، چې د هېواد ځان بساینې، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو ترڅنګ اوبه مهار او په دې برخه کې پراخه پانګونه وشي. په دې برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د تېرو څه باندې درېیو کلونو په بهیر کې ګوټلي ګامونه اوچت کړي دي.

پاتې په راتلونکي مخ کې...

په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوری د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وشوه.

محترم ملا صاحب په همدې موخه جوړو شویو مراسمو ته وویل؛ د پاشدان بند د هرات ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده او اسلامي امارت یې په ټول توان بشپړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې په پوره اخلاص سره یې چارې په عمل کې بشپړې کړي.

اوس‌مهال د دغه بند چارې بشپړېدو ته نیږدې او د اوبو زېرمه کول یې پیل شوي دي. دغه بند به شاوخوا ۵۴ میلیونه مترمکعب اوبه ذخیره، ۱۳ زره هکتاره ځمکه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښنا به تولید کړي چې دامهال سلګونو او له ګټې اخیستنې وروسته به زرګونو کسانو ته د دایمي کار زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې څه موده وړاندې په زابل کې د عمري بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او په نیږدې راتلونکې کې به په کابل کې د شاه و عروس بند هم ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



## د داوطلبۍ خبرتیا

د کانونو او پټرولیم وزارت په پام کې لري چې لاندیني جدول کې ذکر شوې د کانونو ساحه د لوی مقیاس د کان کیندنې د قرارداد په موخه داوطلبۍ ته وسپاري، ټول کورني او بهرني لیوال شرکتونه کولای شي د داوطلبۍ پروسه کې د ګډون په موخه د لیوالتیا اظهارلیک او د اهلیت د مخکنۍ ارزونې پوښتنپاڼې د وزارت له (http://lsmmd.momp.gov.af/) ویب‌پاڼې او یا د کانونو او پټرولیم وزارت د لویو کانونو د چارو د تنظیم ریاست څخه چې د مکروریانو څلورلارې، کابل - افغانستان کې موقعیت لري، ترلاسه کړي او له ډکولو وروسته یې تر ۱۴۰۳/۹/۳۰ نېټې د لویو کانونو د چارو د تنظیم ریاست د ارزونې او داوطلبۍ آمریت ته وسپاري.

### د کانې ساحې مشخصات

| شمېره | د کان نوم | ولسوالی | ولایت | د موادو ډول | مساحت ($km^2$) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سربو او جست څلورم بلاک | شهرک | غور | سرب او جست | ۱۶۹،۲۸ |

د لویو کانونو د چارو د تنظیم ریاست

## TENDER NOTICE

The Ministry of Mines and Petroleum invites all interested national and international companies to participate in the bidding process for a large-scale mining contract in the specified area.

Prospective bidders can access the capability statement and pre-qualification questionnaire either by downloading them from the Ministry's official website at http://smmd.momp.gov.af/ or by visiting the Directorate of Large-Scale Mines Regulation, located at Macrorayan Square, Kabul, Afghanistan.

Completed forms must be submitted to the Bidding & Evaluation Department no later than December 20, 2024.

### Description of the Tender

| NO | PROJECT NAME | DISTRICT | PROVINCE | MINERALS | AREA ($km^2$) |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 4th Block Lead & Zinc | Shahrak | Ghor | Lead & Zinc | 169.28 |

Directorate of Large-Scale Mines Regulations

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی



# د کابل – مسکو اړيکې او د ښه‌والي فرصتونو ته يې کتنه

ليکوال: قيس احمد

## سريزه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په افغانستان کې يو پياوړی، مرکزي او واحد حکومت رامنځته شوی دی. اسلامي امارت د هېواد د امنيت او اقتصادي ودې لپاره پرله پسې اساسي هڅې کوي چې په همدې موخه يې په هېواد کې د نشه‌يي توکو کښت بند کړی او ټولې هغه ډلې يې له منځه وړې دي، چې د افغانستان او سيمې امنيت او اقتصاد ته زيان رسوي.

اسلامي امارت له خپل لوري ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو ته په وار وار ډاډ ورکړی دی چې د افغانستان خاوره به د هېچا پر ضد ونه کارول شوي او د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست په غوره کولو سره ژمن دی چې د سيمه‌ييز اقتصاد په پياوړتيا او همدارنګه سياسي ثبات کې مهم رول ولوبوي.

د سيمې او نړۍ هېوادونو په افغانستان کې رامنځته شوی بې مخينې فرصت درک کړی او غواړي له افغانستان سره خپل دوه اړخيز تعامل زيات کړي، چې ښه بېلګه يې روسيه ده. روسيه يو پياوړی افغانستان د سيمې او نړۍ په ګټه بولي او د همدې سياسي تګلارې په غوره کولو سره پراخ تعامل ته راوړاندې شوې، چې د وروستيو هڅو او پرمختګونو په اړه يې دلته لنډې خبرې کوو.

## د کابل – مسکو سياسي اړيکې

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د کابل – مسکو سياسي اړيکې د پخوا په پرتله پراخې او پياوړې شوې دي. مسکو په خپله مشرۍ د سيمې په مهمو سياسي او اقتصادي ناستو کې د اسلامي امارت استازو ته بلنه ورکړې او هر وخت يې پر دې ټينګار کړی، چې له اسلامي امارت سره د اړيکو پراختيا او همکاري د ټولو په ګټه دی. ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې د قزاقستان په استانه ښار کې د ټوليز امنيتي تړون سازمان د سرمشريزې په پای کې د روسيې د ولسمشر ولاديمير پوتين څرګندونې دي. پوتين د خپلو خبرو پر مهال وويل، روسيه له دې سترګې نه پټوي چې د افغانستان وضعيت ورځ تر بلې د ثبات په حال کې دی، روسيه له اسلامي امارت سره دوه اړخيزې اړيکې لري او دا اړيکې به لا پراخې شي .

له هغه را وروسته څو ورځې وړاندې د روسيې د ملي امنيت شورا عمومي منشي سرګي شويګو د يو پلاوي په مشرۍ کابل ته راغی او دلته يې د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او يوشمېر نورو مشرانو سره وکتل.

له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د ليدني پرمهال ښاغلي شويګو وويل چې اوسنی سفر يې د روسيې د ولسمشر په هدايت ترسره شوی او روسيه له افغانستان سره د دوه اړخيزو اړيکو د همکارۍ کچې زياتېدو ته لېواله ده او په همدې موخه به په نږدې وخت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره د اسلامي امارت نوم د روسيې له تورلېست څخه لرې کړي.

په رسمي توګه د روسيې له تورليست څخه د اسلامي امارت لرې کول به په سيمه کې د اسلامي امارت په اړه يو مهم ګام وي. په دې سره به د مسکو او کابل ترمنځ د پراخو سياسي اړيکو ټينګولو بستر برابر شي او تر ټولو مهمه دا چې دا به د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې په برخه کې يو بل ګام وي چې ور نږدې به شي.

له تورلېست څخه د اسلامي امارت ايستل به د نړيوال مشروعيت ترلاسه کولو هڅو کې يو لوی ګام وي. دا به دواړو هېوادونو ته اجازه ورکړي چې ډيپلوماتيکې اړيکې لا پياوړې کړي. روسيه کولی شي په کابل کې خپل ډيپلوماتيک ماموريت پراخ کړي او اسلامي امارت به په مسکو کې خپلې هڅې زياتې کړي.

له تورلېست څخه د اسلامي امارت ايستل به افغانستان او روسيې ته دا فرصت برابر کړي څو د سيمې امنيت او سيمه ييزو اقتصادي همکاريو کې خپل مثبت رول پياوړی او په دغه برخه کې خپل نفوذ قوي کړي. په دې سره به د سيمې په چارو کې د اسلامي امارت رول فعال شي. د تورلېست لرې کېدل به د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضا نوره هم غښتلې کړي، چې د سيمې د اوږدمهاله امنيت لپاره مهم رول لوبولی شي. که روسيه اسلامي امارت د تور ليست څخه لرې کړي، نو دا به نورو هېوادونو ته يو سيګنال وي چې د اسلامي امارت سره اړيکې نورې هم عادي کړي. په ځانګړې ډول هغه هېوادونه چې د شانګهای همکاری سازمان او يا هم د روسيې په مشرۍ د نورو سيمه‌ييزو جوړښتونو غړي دي.

دا به په مجموع کې د سيمې د امنيتي، سياسي او اقتصادي وضيعت په ښه‌والي کې مرسته وکړي.

## د کابل – مسکو اقتصادي اړيکې

افغانستان او روسيه که څه هم په پوله شريک ګاونډي هېوادونه نه دي، خو په سيمه کې يو و بل ته نږدې پراته هېوادونه دي چې د يو و بل له حالاتو اغېزمنېدلی شي. روسيه له اسلامي امارت سره د سياسي اړيکو پر پراخوالي سربېره په اقتصادي برخه کې هم ګډو همکاريو ته لېواله ده.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې

د رياسـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي

هفته نامه آبادی


د تېر په پرتله اوسمهال د افغانستان او روسيې ترمنځ سوداګريزه راکړه ورکړه زياته شوې ده. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د کابل او مسکو ترمنځ د تيلو، غنمو او نورو اساسي توکو په برخه کې قراردادونه شوي دي چې د افغانستان د اقتصادي ستونزو په کمولو کې يې مرسته کړې ده. له تورلېست څخه د اسلامي امارت په لرې کېدو سره به د کابل او مسکو ترمنځ اقتصادي اړيکې په مستقيم ډول زياتې شي. د روسيې د ملي امنيت شورا عمومي منشي په مشرۍ راغلي روسي پلاوي وويل، چې په افغانستان کې وروستيو اقتصادي پرمختګونو او د پانګونې اسانه شرايطو ته په کتو روسي شرکتونو په افغانستان کې په بېلابېلو برخو لکه کانونو، انرژۍ، صنعت، ترانسپورټ او کرنې کې پانګونې ته لېواله دي. افغانستان د جنوبي اسيا او منځنۍ اسيا ترمنځ د ټرانزيټ لپاره مهم ستراتيژيک موقعيت لري. روسي پلاوي له افغان – ټرانس پروژې څخه د ملاتړ او په دغه برخه کې د همکارۍ په ځرګندولو سره زياته کړه، روسيه د سېنټ پيټرزبورګ اقتصادي فورم پرمهال له افغانستان سره د شوو اقتصادي همکاريو عملي پيل ته چمتو ده او غواړي د افغانستان له لارې د سيمه‌ييزو پروژو په پلي کېدو سره د سيمې له نورو هېوادونو سره خپلې اړيکې پراخې کړي.

د کابل – مسکو ترمنځ د سياسي اړيکو په زياتېدو سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګريزه راکړه ورکړه هم اسانه شي. د خوراکي توکو، نفتو، ګازو، ماشين الاتو او نورو اساسي توکو واردات او صادرات به د نړيوالو بنديزونو او محدوديتونو له اغېز پرته ترسره شي. روسيې په دې وروستيو کې چمتووالی ښودلی چې د افغانستان پر صادراتو تعرفه له منځه يوسي يا يې تر ډېرې کچې راټيټه کړي.

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره افغانستان د زېربناوو رغولو په برخه کې اساسي ګامونه اخيستي دي او په دې مهمه برخه کې يې د پانګونې ښه فرصتونه رامنځته کړي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو د زياتېدو په صورت کې به روسي پانګوال په افغانستان کې د رېل پټلۍ، سړکونو او نورو زېربنايي پروژو جوړولو کې پانګونه وکړي. د ترانسپورټ برخې پياوړتيا به د سيمې د سوداګرۍ په پراختيا کې مهم رول ترسره کړي. همدارنګه به روسيه له افغانستان سره د اقتصادي همکاريو پر بنسټ د کرنې د ميکانيزه کولو په برخه کې افغانستان ته ماشين الات او تخنيکي وسايل ورکړي. روسيه کولی شي افغان متخصصينو ته د ټکنالوژۍ، انجينرۍ او کانونو په برخو کې روزنه ورکړي، چې د اقتصادي پروژو د بريا لپاره اړينه ده. د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د زياتېدو په صورت کې به د کابل – مسکو ترمنځ د سياحت کلتور هم وده وکړي. افغانستان د سياحت لپاره بې شمېره ځايونه لري چې د روسي سيلانيانو په راتګ سره به د افغانستان په اړه د نړيوالو ذهنيت مثبت لوري ته بدل شي.

دې ټولو فرصتونو ته په کتو سره د کابل او مسکو ترمنځ د اقتصادي همکاريو د پراخولو لپاره بې شمېره فرصتونه برابر شوي چې ترې سمه استفاده به يې د دواړو هېوادونو په اقتصادي وده کې مهم رول ولوبوي.

## پايله

د افغانستان او روسيې ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو پراختيا نه يوازې د کابل - مسکو لپاره ګټوره ده، بلکې د سيمې د اقتصادي ثبات او امنيت لپاره يو اساسي ګام دی. د يادو اړيکو پراخوالی به افغانستان ته په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه نوی اعتبار ورکړي، د دې اړيکو پرمختګ به د افغانستان اقتصاد ته نوی قوت ورکړي، افغان سوداګرو ته به نوي فرصتونه برابر کړي او د سيمې په کچه به د همکارۍ او ثبات لپاره يو ښه بنسټ کېږدي.

د کابل – مسکو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو په پراخېدو سره به د سيمې نور هېوادونه له افغانستان سره د دې ډول همکاريو د پراختيا لپاره وهڅول شي، څو د ګډو ګټو پر اساس د يوه باثباته او پرمختللي سيمه ييز نظم رامنځته کولو ته لاره هواره شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۰,۰۰ | ؋۷۰,۱۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۱ | ؋۲۴۲ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۷ | ؋۱,۲۷ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷٤,۰۳ | ؋۷٤,۱٤ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۱ | ؋۰,۷۱ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۲۷ | ؋۸۲۸ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸۹,۱۹ | ؋۸۹,۳۲ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,٦۳ | ؋۱۸,٦٦ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۰٦ | ؋۱۹,۰۹۴ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,٦۳ | ؋۹,٦٤ |

